# لوګر ولایت کې د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد مصطفی (صلی الله علیه وسلم) نیکمرغه میلاد ولمانځل شو

د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد مصطفی (ص) د نیکمرغه میلاد په مناسبت غونډه، چې د لوګر د ښاروالۍ په تالار کې دمرغومې په ۳مه دولایت مقام له لورې او دلوګرولایت ددولتي ادارو په همکاري جوړه شوې وه، په دې لمانځغونډه کې لوګروالي محمد حلیم فدایي، دحج او اوقافو رئیس قاضي محمد نقیب رحیمي، داطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمد شفیق پوپل، د دولتي ادارو رئیسانو، دلوګر دشپږوني ولسوالۍ علماکرامو، ځوانانو او قومي مشرانو ګډون کړی ؤ.
دحضرت محمد(ص) د نیکمرغه میلاد په لمانځغونډه کې لوګرعلماء کرامو د حضرت محمد (ص) په سیرت او اخلاقو باندې رڼایي واچوله زیاته یې کړه: الله(ج) رسول الله(ص) د انسانیت، فضیلت، بشردوستۍ او خواخوږۍ ستر سمبول او لارښود په توګه نړۍ ته رالیږلي، چې د بشریت په تاریخ کې ستر مقام او منزلت لري او هر مسلمان ورباندې ویاړي. علماوو په خپلو خبرو کې وویل: چې دانحضرت صلی الله علیه وسلم، لوړ شخصیت د ټولنې د پرمختګونو لپاره د وروري جنډه پورته کړه، تورتمونه او جهالت یې له بشري ټولنو لرې او خلک یې سمې او روښانه لارې ته برابر کړل او دالهي انوارو په رڼا کې د بشریت لپاره د انسانیت او عدالت سوله ییزه لاره غوره او له منفي اعمالو څخه یې انسانان منعه کړل.

لوګروالي محمد حلیم فدایي؛ هم دآنحضرت (ص) په سیرت او اخلاقو خبرې وکړې. والي دحضرت محمد(ص) هغه احایث خلکو ته، چې په اوسني شرایطو کې دټولنې لپاره اړین دي،






چې خلک ورباندې عمل وکړي، بیان کړل؛ چې یو له هغې د سولې، دخلکو سره ښه رویه، په خلکو تیرې کول او پاکوالي سره سمون درلود واورول، چې دغونډې ګډونوالو ته یې په تفصلي ډول معلومات وړاندې کړل.
فدایي دخلکو څخه غوښتنه وکړه، چې دآنحضرت (ص) سیرت زده کړي، عمل پرې وکړي او نورو ته یې ورسوي.

حضرت رسول اکرم (ص) د ۵۷۱ زېږدیز کال د اپریل په ۲۲مه، چې د ربیع الاول له ۱۲ مې نیټې سره سمون خوري، په مکه معظمه کې نړۍ ته سترګې پرانستې او په ۶۲۱ زېږدیز کال کې په پیغمبرۍ مبعوث شو او د ۶۳ کلنۍ په عمر یې له دې فاني دنیا نه رحلت وکړ.

چې وروسته غونډه دقران عظیم الشان په تلاوت او دعا یې په لوستلو سره پای ته ورسیده.

# خشونت علیه زنان در ولایت لوگر ده درصد کاهش یافته است

خشونت علیه زنان درولایت لوگر امسال نسبت به سال گذشته ده درصد کاهش یافته است.
خشونت علیه زنان یکی ازمعماهای پیچیده درکشورمحسوب میشود وهمواره قربانی های با خود داشته است،اکثرمحققین انگیزه اصلی خشونت را درعدم فهم وآگاهی مردم ازرهنمودهای اسلامی میداند ومی گویندکه دین اسلام برای زن حقوق وامتیازات کامل را قایل شده است.
خشونت علیه زنان یکی از موضوعات مانوری در عرصه سیاسی و اجتماعی افغانستان محسوب می‌شود. شاید کمتر کسی باشد که در افغانستان دستی بر تصمیم‌گیری‌های سیاسی و اجتماعی داشته باشد و از خشونت علیه زنان لب به شکایت نگشاید و از مبارزه با آن سخن نگوید ،با این که در قالب مبارزه علیه خشونت در برابر زنان پروژه‌های زیادی در افغانستان اجرا شده و پول‌های زیادی به مصرف رسیده است، اما این مبارزه در زندگی اجتماعی زنان اثر بخش واقع نشده است.
به نظر می‌رسد یکی از علل اصلی بی‌اثر بودن این تلاش‌ها این بوده است که این تحرکات با انگیزه تجارتی انجام شده است، برخی از پروژه‌هایی که در قالب فعالیت‌های مدنی و بشر دوستانه در افغانستان به اجرا در آمده‌اند، با نگاه منفعت اندوزی بوده است. طراحان و مجریان این پروژه‌ها با این انگیزه کارهایی را صورت داده‌اند که از اجرای پروژه پول به‌دست بیاورند ، همین عوامل باعث شده است که خشونت علیه زنان درسراسرکشوربیداد بزند.
خوشبختانه نظربه گفته های رئیسه امورزنان ولایت لوگرنسبت به سال های گذشته رقم خشونت دراین ولایت کاهش یافته است.
شیمازرگر رئیس امورزنان ولایت لوگر به تاریخ ۱۰ قوس به آژانس باختر گفت: درجریان امسال سی ودوقضیه خشونت علیه زنان دراین اداره ثبت شده است که بیشترین قضایا لت وکوب ، دعوای میراث ، نفقه، فرار از منزل وسایر موارد دیگر می باشد .
زرگر افزود : درسال گذشته چهل وسه قضیه خشونت علیه زنان دراین اداره ثبت شده بود که ده درصد کاهش را درسالجاری نشان میدهد .
وی علت کاهش خشونت ها را همکاری ریاست حج واوقاف ، همکاری رسانه ها و تدویر ورکشاپ های آگاهی دهی عنوان نموده میگوید: اکثر مشکلات از طریق بزرگان اقوام نیز حل وفصل می گردد.
منبع اضافه کرد یگانه علت خشونت علیه زنان عدم آگاهی از مسایل اسلامی است. جاویده یکتن از کارمندان ریاست امور زنان می گوید با وجود تلاش ها وتدویر ورکشاپ ها هنوزهم زنان درساحات ناامن مشکلات زیادی دارند اما این مشکلات نسبت به سال های گذشته کاهش یافته است.
فاطمه یکتن ازباشندگان ولایت لوگرمی گوید: پدرم مرا از رفتن به مکتب منع می نمود درحالیکه من علاقمند درس وتحصیل هستم،وی اضافه کرد بخاطرحل این موضوع به ریاست امورزنان مراجعه نمودم، و قتی پدرم به ریاست یادشده دعوت شد با دلایل قانع کننده متقاعد گردید که دوباره به مکتب بروم..
محمداکبریکتن ازباشندگان ولایت لوگرمی گوید: اگر تحرکات سیاسی که به‌نام محو خشونت و مقابله با آن اعلام شده است، با انگیزه محو خشونت صورت می‌گرفت، می‌توانست نتایج بهتری داشته باشد تا جایی‌که دیگر ضرورتی ایجاب نمی کرد که فامیل ها با این مشکل مواجه باشند وی ازهمه نهادهای که درعرصه محوخشونت علیه زنان کارمی کنندمیخواهد که بصورت صادقانه درریشه کن سازی این معضله تلاش های جدی شان را بخرچ دهند.
با وجودکه رئیسه امورزنان ولایت لوگرازکاهش خشونت دراین ولایت حرف میزند با آن‌هم درمناطق دوردست وقریه های که زنان نمی توانند با ریاست امور زنان ومسولین دولتی درتماس باشند موارد خشونت مشاهده میشود. باختر

# په لوګرکې ۴۶ کیلو متره کانال ګټې اخستنې ته وسپارل شو

دلینډۍ ۱۲ مه: ددغه کانال د پرانستې په مراسمو کې لوګروالي محمد حلیم فدایي، د نشه یي توکو پروړاندې د



مبارزې وزېرې پوهاندې سلامت عظیمي، دمشرانو جرګې دوهم مرستیال ډاکټر محمد اصف صدیقي، دولایت مرستیال قمرالدین شکیب،د ولسي جرګې غړی انجینر صاحب خان ، د (GPI)اداري مشر عزیزالرحمن تسل، دولایتي شورا رئیس سید قریب الله سادات او د شورا غړو ،د ولایت د یوشمېر ملکي او نظامي ادارو مسؤلینو، قومي مشرانو او ځوانانو برخه درلوده.
دغه کانال چې ۴۲ کیلو متره اوږدوالی او څلور متره سور لري، ټول ټال پرې(۸۹۵۹۳۲۰۰) افغانۍ لګښت راغلی چې دغه لګښت د نشه یي توکو پرضد د مبارزې وزارت او (GPI) اداري له خوا ورکړل شوي دي. دیاد کانال کار په یو کال کې د جوړېدو چارې بشپړې شوې ، دغه کانال د برکي برک او تګاب له سیند څخه سرچینه اخلي او دبابوس تر اخري نقطې پورې رسېږې ،چې د الوزیو او ددهنو سیمې ترینه ګټه اخلي. یادکانال دوه برخې لري چې اوله برخه یې ۳۰۲۰ متره دواړه لورې دیوال او ۳۰۰ متره یوه خوا دیوال سنګکاري شوی او دوهمه برخه چې ۷۰۰ متره ده یو لور یې سنګکاري شویده. د یاد دیوال جیګوالی دوه متره دی، چې ددغه کانال څخه ۱۲۰۰۰ دولس زره جریبه کرنیزه ځمکه خوړوبه کېږي او همدارنګه د دې کانال څخه ۴۵ کلې ، ۱۵۰۰۰ کورنۍ او ۷۵۰۰۰ تنه ترې ګټه اخلي. د دې پروژې موخه د محل د خلکو هڅونه، د نشه یي توکو له کرکیلې پروړاندې مبارزه، داوبو له ضایعاتو مخنیوی،خلکو ته دکار زمینه برابرول اود دولت او خلکو ترمنځ دواټن نږدیوالی او د اوبو لګولو لپاره د یومنظم میکانیزم رامنځته کول دي.
لوګروالي دکانال دپرانستنې غونډې ته وویل: دغه کانال یو عام المنفعه پروژه ده، چې زرګونه خلک ترینه استفاده کوي. والي د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې وزارت او د (GPI) اداري کارونه د کیفیت له نظره وستایل او له وزېرې وغوښتل چې دنشه یي توکو دمخینوي لپاره دې یوازې په عامه پوهاوي تکیا ونه کړي بلکې خلکو ته دې دښوونې اوروزنې په برخه کې لازم خدمتونه وړاندې کړي ځکه لوګرولسونه ښوونې اوروزنې ته لیواله دي.
پوهاندې سلامت عظیمي غونډې ته وویل: خوښه او خوشحاله په دې یم، چې لوګر د نشه یي توکو په کر کیله او نه استعمال کې لومړی درجه ولایت دی هیله لرم، چې په نورو برخو کې هم لومړی مقام خپل کړي.
همدارنګه عظیمي په راتلونکي کال کې د لوګر ولایت د نشه یي توکو ریاست ودانۍ جوړول په پلان کې ځای ورکولو خبره او دکرنې په برخه کې دپروژو د وړاندې کولو غوښتنه یې هم وکړه اوله هغه ادارو سره چې له دوی سره په ګډه کارکوي له هغو سره شریکه کړي.
د مشرانو جرګې مرستیال ډاکټر محمد اصف صدیقي، د ولسي جرګې وکیل صاحب خان او د ولایتي شورا رئیس هم ددغې پروژې له بشپړېدو خوښي وښوده چې داسې یو مهمه او عام المنفعه پروژه ګټې اخستلو ته سپارل کېږي.
په اخره کې د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې وزېرې ، ورسره راغلو میلمنو او د (GPI)اداري مسؤلینو ته سوغاتونه او ستاینلیکونه ورکړل شو.

## کارساخت تعمیرلیسه شاه خلوتی آغازشد

کارساخت تعمیرلیسه شاه خلوتی درولسوالی چرخ ولایت لوگرتوسط مسئولین ریاست معارف وبزرگان قومی آغازگردید.
شاهپورعرب سخنگوی ریاست معارف ولایت لوگربه تاریخ 15 قوس به آژانس باخترگفت: تعمیرلیسه شاه خلوتی دریک منزل به شکل پخته واساسی آن درظرف شش ماه ازبودجه وزارت معارف به هزینه بیست ویک میلیون افغانی ساخته میشود که دارای دوازده صنف درسی، چهاراطاق اداری، یک حلقه چاه آب آشامیدنی، دیوارمحوطه صحن حویلی لیسه وسایرملحقات ضروری آن میباشد.
سخنگوی ریاست معارف میگوید که دراین لیسه 665 شاگردمصروف آموزش درخانه های کرایی میباشند که با ساخت تعمیرمذکورمشکلات شاگردان ازناحیه کمبودی جای مرفوع خواهد گردید ،آقای عرب خاطرنشان ساخت که ازجمله 305 باب مراکزتعلیمی درولایت لوگر 117 باب آن تعمیرندارد.
ولسوالی چرخ یکی ازمناطق نا امن درولایت لوگرمحسوب میشود که با وجود تهدیدهای بلند امنیتی باشندگان آن علاقه زیادی به علم ودانش دارند ، گفته میشود درولسوالی یادشده 30 باب مکتب ودوباب مدرسه وجوددارد که درآن بیش از9673 شاگرد مشمول 1645 دختر، مصروف آموزش میباشند.
باختر

# یک مقدار جنگ افزار به برنامه دایاک تسلیم داده شد

یک مقدار جنگ افزار های سبک و سنگین در ولایت لوگربه تاریخ 2 قوس به پروسه دایاک تسلیم داده شد. این جنگ افزار ها درجریان عملیات های جداگانه که در مربوطات ولایت لوگر ومیدان وردک از سوی کندک هشتم لوای اول فرقه عملیات های کوماندو صورت گرفته بود ، بدست آمده ست.
برید جنرال امان الله مبین قوماندان لوای اول کماندو مستقر در زون جنوب شرق به آژانس باختر گفت: این جنگ افزار ها شامل هشت میل راکت انداز ، پنجاه ونه میل کلاشینکوف، یازده میل پیکا ، هشتادوسه میل گرینوف ویازده تیره، یک میل بیست تکه پاکستانی، شش میل تفنگچه ، یازده مخابره با دو سیت موبائیل و ماین های ضد وسایط می باشد.
منبع افزود ، این جنگ افزار ها به کمیسیون جمع آوری اسلحه تسلیم داده شد.
برید جنرال غلام نبی طوطاخیل مسوول جمع آوری اسلحه درجنوب شرق گفت: بعد از انتقال سلاح های غیر فعال را دو باره ترمیم و به نیروهای امنیتی توزیع خواهند کرد. باختر

# یوتن ماشوم؛ دتښتونکوله منګلو څخه آزاد شو

په لوګرولایت یوتن تښتونکی ماشوم، چې عمر یې ۱۴ کالو په شاوخوا کې ؤ، دتښتونکوله منګلو څخه خلاص او خپلې کورنۍ ته تسلیم شو. دغه ماشوم رحیم الله دعبدالحکیم زوی او دبلخ ولایت اوسیدونکی ده، چې دامهال دکابل دبګرامیو ولسوالۍ کې میشته او هلته دامام ابوحنیفه په مدرسه کې دیني زدکړې کوي.



دلوګرولایت دمقام په خبرپاڼه کې خپاره شوي ، چې دغه ماشوم ۹ ورځې وړاندې دمدرسې څخه دکور په لور روان ؤ، چې یو کرولاډوله موټر کې دري کسان ناست ؤ او ماشوم یې وتښتول، چې بیاد لوګر ولایت ته یې راوړې ؤ، چې تیره ورځ د ملي امنیت له خوا په ځانګړو عملیاتو په ترڅ کې د برکي برک ولسوالۍ په قلع تقي سیمه کې د تښتونکوو له منګولو خلاص او درې کسان د یو میل کلاشینکوف او یو میل تفنګچې سره یوځای ونیول شول.
رحیم الله رسنیو سره په خبرو کې وویل: ((چې په تیرو ۹ ورځو کې د تښتونکو له خوا ماته وهل او ډبوول راکول کیده او راته به یې ویل، چې ستا کورنۍ مونږ ته تر هغې چې پیسې رانکړي تا نه خوشې کوو ، خو دملي امنیت په دوی چاپه وغورزوله او زه یې راخلاص کړم او هماغه دري نفر چې زه یې تښتولی وم ونیول.))
د رحیم الله پلار د لوګرولایت مقام او د ملي امنیت ریاست څخه مننه وکړه، چې ددې زوي دتښتونکوله منګلو خلاص کړل. هغه وویل: چې تښتونکو له ما څخه څلور لکه ډالر غوښتل چې ما د دې توان نه درلود ، ترڅو دوی ته یې ورکړم، چې په پای کې د ملي امنیت ځواکونو زما زوی ته یې دتښتونکو له منګلو خلاصون ورکړ. نوموړی ماشوم دلینډې په ۱۲ مه د لوګرولایت مرستیال قمرالدین شکیب او د ملي امنیت مسؤلینو له خوا خپل پلار ته وسپارل شو.

موږ به هله دثبات او اقتصاد څښتان شو ، چې دمتو زورفکر ته راولو.
محمد حلیم فدایي دلوګروالي

Logar لوګر
دامتیازخاوند : دلوګراطلاعاتواوفرهنګ ریاست
مسئول مدیر: شیر محمد امیني «ستانکزی»
داریکي شمیرې : ۰۷۰۷۲۴۴۲۲۸ / ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸
کتنپلاوی : محمدشفیق «پوپل» ، امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطانی»
محمدموسی " عدیل" دباختر داطلاعاتي آژانس خبریال
کمپوز او ډیزاین : ش . امیني «ستانکزی»
برېښنالیک : shir.stanikzai2@gmail.com
چاپ ځای : سهرمطبعه کابل افغانستان